SHARIAT

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارګان

پنځم کال ۷۱ مه ګڼه پرله پسې (۳۵۸) شنبه د۱۴۲۱ هـ ق کال درجب المرجب (۳)
د۱۳۷۹ هـ ش کال دتلې دمیاشتي (۹) د ۲۰۰۰ میلادي کال دسپتمبر (۳۰)

در مربوطات ولایت تخار:

شش تن از قوماندانان مخالفین با اُردوی اسلامی پیوستند

تخار باختر :
شش تن از قوماندانان مخالفین همرا با دوصد تن از افراد مسلح شان اخیراً درمربوطات ولایت تخار با مجاهدین اردوي اسلامي یکجا شدند. به سلسله پیوستن قوماندانان مخالفین با اردوي اسلامي اخیراً قوماندانان هریك غلام قادر، حبیب الرحمن ، راز محمد ، لاجمیر ، امیرخان وملاظهر با درك حقانیت امارت اسلامي در مربوطات ولایت تخار دست از جنگ وبرادرکشي کشیده وبا دو صد تن از افراد مسلح شان به مجاهدین اردوي امارت اسلامي پیوستند . از قوماندانان متذکره محترم مولوي حکمت الله مسوول نظامي ولایت تخار استقبال نموده و آنان ضمن حمایت

ص٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړي تاسي ! ،همدا (عدل)دېرنږدې دي تقوا (پرهیزګاري) ته .
(سورة الماهده)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید .

دعالیقدر امیر المو منین ملامحمد عمر« مجاهد » له خوا :

دهیواد دملي اقتصاد دسمون او ودې لپاره دیوه لوړرتبه کمیسیون منظوري ورکړل شوه

ددې کمیسیون مشري دریاست الوزراء داقتصادي مرستیال په غاړه ده

دغه کمېسیون به دهېواد داقتصادي پرمختګ لپاره په مناسبو لارو چارو غور کوي

کابل باختر
په هېواد کي په بېه توګه داقتصادي فعالیتونو دتنظیم او سمون په مقصد دافغانستان داسلامي امارت داقتصادي عالي کمېسون دجوړولو په باب دعالیقدر امیر المؤمنین حکم .
دافغانستان داسلامي امارت له اقتصادي پالیسي سره سم او دهېواد په اقتصادي فعالیتونو کي دمعقولیت رامنځته کولو او دعمومي اقتصادي سیاستونو ترمنځ دهماهنګي دبرابرولو او په نتیجه کي بې په انهولېزي او هماهنګي اقتصادي ودې باندي دلاس بري او دکلیدي او اساسي اقتصادي سکتو رونو دسمون په مقصد له پولي او مالي منابعو څخه داغېز مني اقتصادي استفادي او دمالي

٤ مخ

داسلامي پرمختیا بانک دلوړو زده کړو له وزارت سره مرسته کوي

کابل باختر:
داسلامي پر مختیا بانک هیأت څغي غونډي په ترځ کي چي ورمه ورځ بې د لوړو زده کړو وزارت له محترم اداري معین سره وکړه له دغه وزارت سره بې په طبي او تحصیلي برخو کي دعلمي مرستو داډورکړ دلوړو زده کړو وزارت اداري معین محترم مولوي محمد مسلم حقاني ددغې کتني په بهیر کي داسلامي پرمختیا بانک هیأت ته دتشکیلاتي مسلو دتحصیلي او تحقیقي

٤ مخ

دستگاه تصفیه وی آب وگاز در شبرغان دوباره تجرید و نصب گردید

شبرغان باختر :
دستگاه جداکننده آب وکاندینسات از تولید گاز چاه نمبر شصت وسه ساحه جرقدوق شبرغان که نسب موجودیت آب شور وخرابي دستگاه تصفیه آب وکاندینسات از گاز بطي ودر سطح تصفیه نازل قرار گرفته بود اخیراً از اثر توجه انجنیران تصدي افغان گاز دستگاه تصفیه کننده با استفاده از سامان الات مستعمل موجود مجدداً فعال ویا نصب دوباره آن به چاه متذکره استخراج گاز از ان چاه آغاز گردید . بانصب دستگاه متذکره استخراج گاز سرعت یافته و در ۲۴ ساعت سي هزار مترمکعب گاز از چاه مذکور استخراج میگردد. همچنان از ضایعات بیشتر از پنج هزارمتر مکعب گاز نیز جلو گیري بعمل آمده است
فابریکات جرقدوق شبرغان که یکی از پروژه های بزرگ اقتصادي کشور به شمار

ص٤

پنځو غیر حکومتي موسسو ته دفعالیت اجازه ورکړل شوه

کابل باختر:
پنځو کورنیو او بهرنیو غیر حکومتي موسسو ته په افغانستان کي دکار او فعالیت اجازه ورکړشوه .
دغیر حکومتي موسسو دثبت او راجستر دعالي کمیسیون په غونډه کي چي ورمه ورځ دپلان وزارت دلومړي معین محترم محمد موسي هوتک په مشري جوړه شوه دیو شمیر موسسو په سندونو باندي له غورا و

٤ مخ

دعدلیي وزارت معین محترم مولوي جلال الدین شېنواري :

دافغانستان اسلامي امارت په حقوقي او مدني مسالو کي په بشپړه توګه داسلامي او قرآني حکمونو په رڼا کي عمل کوي

کابل باختر :
. دغه ټکي دعدلیي وزارت معین محترم مولوي جلال الدین شېنواري ورمه ورځ دافغانستان لپاره دملګروملتو د سازمان دخاص دفتر

٤ مخ

سیلاب ها در نجراب خساراتي را ببار آورد

نجراب باختر :
به اثر سرازیر شدن سیلاب ها در مربوطات ولسوالي نجراب ولایت کاپیسا بر علاوه خسارات هنگفت مالي به مردم اتولسوالي هفده محراب مسجد شهید گردیده است دراثر این سیلاب ها که اخیراً در قریه افغانیه

ص٤

دفلسطین دخپلواکي اعلان امریکا نه شي منلی

واشنگټن -باختر
دفلسطین خپلواک دولت بوا رخیز اعلام به دامریکا دمتحده ایالاتو د مرستو له بندېزونو سره به مخامخ شي
دالمان غیرادبو دخبرله مخي دامریکا دمتحده ایالاتو داستاز ومجلس بوه داسي لایحه تصویب

٤ مخ.

مصروفیت هاي هیأت افغاني در افریقاي جنوبي

کابل باختر :
هیات امارت اسلامي که اخیراً جهت اشتراك درکنفرانس الفقه الاسلامي به افریقاي جنوبي سفر نموده بود پریروز با برخي از نمایندگان کشورهاي اشتراك کننده ملاقات نمود.
هیات امارت اسلامي تحت ریاست محترم مولوي شهاب الدین دلاور رئیس عالي تمیز ومعاون ستره محکمه ضمن ملاقات با نماینده گان هیات هاي مختلف کشور هاي اشتراك کننده در

ص٤

په ارزګان کي شپږ جریبه ځمکه دبنګو له بوټو پاکه شوه

ارزګان باختر :
دارزګان ولایت په مربوطاتو کي شپږ جریبه ځمکه دبنګو له بوټو څخه پاکه شوه .
دارزګان ولایت دامر بالمعروف او نهي عن المنکر آمریت د موظفینو دهڅو او هاند له امله په دي وروستیو وختو کي ددغه ولایت په

په چخچران کي دلیلیه مدرسي بېښتې دېره کېښودل شوه

غور باختر
دغور ولایت مرکز دچخچران ښار په مربوطاتو کي بوه لیلیه مدرسه جوړيږي

دننګرهار ولایت په مربوطاتو کي:

دبنا ودانولو چاري په چټکي سره رواني دي

شریعت : دننګرهار ولایت د هوايي ډګر داسقلت اچولو بو نټ له خوا په دې وروستیو وختو کي دنوموړي هوايي ډګر دبنا رغوني چاري او دغه راز دیماد آمریت له لوري دشینوار ولو په ولسوالي کي دېوي مدرسي او ددغه ولایت په شاهي ماني

ص٤

دتنګي سیدان په سیمه کي ۸۰۴۷۹ متره مربع ځمکه له ماینونو څخه پاکه شوه

کابل باختر :
له پیښو سره دمبارزي دتباري دادارې خبرتیا :
داي تي سي دماین پاکولو دموسسې دچار آسیاب ولسوالي دتنګي سیدان په سیمو کي دخپلو فعالیتونو په ترځ کي ا تیا زره څلور سوه تهه او یا مربع متره ځمکه دماینو

٤ مخ

په ارغندي کي دسړک په غاړه یونوي جومات پرانیستل شو

کابل باختر :
دکابل کندهار دلویې لارې په اوږدو کي دارغندي په سیمه کي په دې وروستیو وختو کي یو جومات جوړا و ورمه ورځ دیو شمیر امارتي چارواکو له خوا پرانیستل شوا ودلمونځ کوونکو داستفادې ور وګرځید دغه جومات چي دالرشید ترست موسسي له خوا ددوه سوه ملیونو

٤ مخ

افغان پرمختیا یې موسسي په کندهار کي ۲۶ واټر پمپونه درولي دي

دافغان پرمختیا یې موسسي داستفادي په مقصد شپږویشت واټرپمپونه درولي دي . دجنوب دکندهار ولایت د مرکز په شاوخوا کلیو کي له روغتیا یې او بوڅخه

ص٤

: درباضي او فلسفي علومو له پلوه دقرآن دعددي نظم پو علمي کنفرانس جوړشو

کابل باختر : دافغانستان داسلامي امارت دعلومو په اکادمي کي ورمه ورځ درباضي او فلسفي علومو له پلوه دقرآن دعددي نظم ترسرلیک لاندې یو علمي کنفرانس جوړشو . دکنفرانس په پیل کي دعلومو اکادمي لوي ریاست درباضي فزیک او تخنیک دعلومو رئیس محترم محمد صدیق افغان ددغي موضوع په باب هراړخیز معلومات

٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

سرمقاله

دلوي خداي «ج» په نامه

روسان په افغانستان کي دمداخلت دپاره پلمي لټوي

دتېرې اونۍ په سرکي دپوتين خاص استازي سرګي ياسترژينسکي پاکستان ته تللي و او هلته يې دپاکستان اجرائيوي مشرجناغلي پرويز مشرف سره دافغانستان په هکله خبري اتري وکړي او دپوتين يو ځانګړي پيغام يې وروړساو دخبر و پروخت روسي استازي وويل : روسان قوي شواهد لري چي په افغانستان کي د ترهګرو دروزني کمپونه شته چي پکي دري نيم سوه کسه چيچنا يان دروزني لاندي دي دروسانو داوږ خبر ي که څه هم نوي نه دي او مخکي هم ديري تکرارشوي دي خو په دغو ورځوکي يې بيا دونه ښايي دهيواد په شمال ختيځو سيمو کي داسلامي امارت دمجاهدينو دپوځي پرمختګونو سره تړاو ولري ځکه دغو پرمختګونو روسان او دهغوي ټول اندېو الان دېري وارخطايې سره مخامخ کړي او روسيه خو هسي هم په مرکزي آسيا کي دخپلو منګلو ټينګولو او خپل پوځي موجوديت دمعقول او رواښو ولو دپاره تل داشان خبري کوي چي ګويا افغانستان د منځني آسياهيوادونو دپاره ځکه خطرناک دي چي هلته دتروريستانو روزنه کيږي دي خبري ته ان دازبکستان جمهور رئيس هم نغوته کړي او ويلي يې دي چي ځيني خواوي دخپلو ګټو او پوځي موجوديت دپاره دافغانستان په هکله مبالغه او زياتي کوي دروسانو ددي تورو نو په مانا او مقصد بايد دسيمي ټول ولسونه وپوهيږي او خامخا هغو حقائقو ته غاړه کيږدي چي دداسي کورني ستونزي هيڅکله هم له افغانستانه سرچينه نه اخلي بلکي داد هغو رژيمونو کاوا که سيا ستو نه او په سيمه کي دروسانو ناروا او يې ځايه لاس وهني دي چي ددغو هيوادونو دمسلمانو ولسونو دپاره هيڅکله هم دمنلو وړ نه دي دافغانستان په هکله هم دروسانو داتورونه ديو منظم پلان له مخي کيږي او غواړي له خپلو هغو لاس وهنو او پوځي مرستو چي داسلامي امارت دمخالفينو سره يې کوي دنړي والو پاملرنه بلي خواته واړوي دروسانو دپوځي مرستو په هکله نړي والو خبري سرچينو او دسيمي مطبوعاتو په وارو وارو راخبره کړي ده چي روسان هغو ته هر ډول جګړه ايز وسائل ورکوي دهمدي تېرو ورځو په تصفيوي عمليا تو کي دتخارښاو خوانه داسي پوځي مهمات هم داسلامي اردو مجاهدينو ته په لاس ورغلي چي ډېر نوي او د (۲۰۰۰) دوه زرم کال جوړ دي مګر له دي سره سره روسان کله کله داهم وايي چي مونږ به دافغانستان دمخالفينو سره پوځي مرستي ونه کړو خو دوي داخبره هغه مهال وکړه چي دمخالفينو يو استازي په داګه له روسانو دپوځي مرستو غوښتنه وکړه او يو کس يې دد ي موخي دپاره ان مسکو ته ليږلي و خو په هرصورت حقيقت دادي چي افغانستان هيڅکلا هم چاته ګواښ نه دي پيښ کړي او دګاونډيو هيوادو سره خوتل ديښو او دوستانه اړيکو غوښتونکي يو دلته نه دچا دپاره مخالفين ترببه کيږي ، نه دتروريستانو هډي شته او نه زمونږ له پولو په چاپاندي څه وسله وال تېري شوي دي مونږ په خپله ددوه ويشت کلنو جګړو ددېر درانه پيټي لاندي يو او دېر ديو له خوا يوه ګرانه او تاواني جګړه راباندي تپل شوي ده نو په دي وخت کي به هيڅکه معقوله نه وي چي مونږ خپل ستونزي شاته او دنورو پيټي په سر واخلو مونږ يو ځل بيا داهرګندونه کوو چي دهيڅ ګاونډي هيواد سره څه مشکلات او ستونزي نه لرو ، ټولو سره ښه اړيکي ، راشه درشه او په اقتصادي ډګر کي خپل منځي ملګرتيا ته ليواله يو دهيڅ دمسلمانانو سره داړيکي برابرځي تر اخلاقي پولو رسيدلي او له دومره لري هيواد سره هم هيڅ ډول مرستي نه شو کولاي زموږ دادريځ ډير معقول ، اصولي ټول افغان ولس د غوڅ ملاتړ نه برخمن او دهغوي ټول په جاتړ و هيلو او غوښتنو ولاړ دي او ټول هيوادونه يې بايد په جدي ډول په پام کي ونيسي .

دکابل دفتحی دڅلورمی کلیزی په ویاړ

د ا.ا.ا اقتصادی بریاوو ته یوه کتنه

پوهنیار دیپلوم انجنیر شریفه

زموږ ګران هیواد په آسیا کی د یوه لرغونی تمدن په توګه ډیری سرشاره قدرتی زیرمی او زیار ایستونکی غیرتی خلك لری . ددی هیواد حساس جغرافیوی سیاسی موقعیت د تاریخ په اوږدو کی د نړی د څواکمنانو او تجاوز ګرانو پاملرنه ځانته جلب کړی او په څو واره د بهرنیو برلاسی غوښتونکو او استعماری طاقتونو له خوا تر برید او تجاوز لاندی راغلی دی که څه هم زموږ د ویاړلی هیواد تاریخ د بهرنی استعمار او بهرنیانو پوری تړلی داخلی استبداد پر وړاندی د جهاد او مبارزی ځلانده پاڼی لری خو د همدی مبارزاتو او سرښندونکو قربانیو په اثر ددی لرغونی هیواد په قلمرو ستری مالی او ځانی خساری واردی شوی چی په نتیجه کی یی بیوزلی او ورسته پاتی والی زموږ د غیرتی او زړه ورو خلکو په برخه شویدی . استیلاګرانه جګړو ، لاسوهنو ، دسیسو او د هغی نه ولاړو شوو عواقبو موږ ته د معاصر تمدن د مزایاوو نه د سالمی ګټی اخیستنی په خاطر ډیر لږ وخت په لاس راکړیدی .

لکه چی څرګنده ده افغانستان یو کرهنیز پرمختیایی یا وروسته پاتی ساتل شوی هیواد دی د کمونستی کودتا نه مخکی د هیواد په صادراتو کی د کرهنی او مالداری د محصولاتو ونډه په سلو کی ۷۰ او د نفوسو ۸۰٪ وګړی په مستقیم یا غیرمستقیم ډول په کرهنه او مالداری کی بوخت وو . د روسانو د تجاوز په وجه د افغانستان د کرهنیزو کروندو ۱۱٤٤٥ هکتاره ځمکه له کښتنه ووتله او د ۲۰۰۰ هکتاره خواوشاه د طبعی ځنګلونو سیمی او ۱/٥ ملیون جریبه د پستی ځنګلونه د سترو زیانونو سره مخ شول . ملیونونه انسانان او بشری فعال ریزرفونه نابود یا د ملك نه بهر مهاجر او یا په داخل کی د خپلو ژوند ځایونو څخه بی ځایه او د خپلو اقتصادی ذریعو او وسایلو سره بی رابطی شول .

اجوره بزګرانوته ورکول کیږی . همدارنګه د نویو ماشین آلاتو د پاره دوه لکه ډالره تخصیص ورکړ شویدی . د ځنګلونو د ساتنی په خاطر مجهز کنټرولونه منظور او د جوړیدو او استخدام کار یی په چټکی سره دوام لری . په ملیونونو غیر مثمر اومثمر نیالګی د هیواد په غرنیو کروندګرو او ځنګل دارانو ویشل شوی . د بادام باغ او دارالامان تحقیقاتی فارمونه بیا د استفادی وړ ګرځیدلی . (۸۰۰) ټنه اصلاح شوی تخمونه د ولایاتو بزګرانوته په وړیا توګه توزیع شوی . د بینی حصار فارم بیا فعال شوی چی

ترقی په کار کی د زمینه جوړونکو اوتشویقوونکو اقداماتو په لړ کی لس ګونه فرامین ، تقنینی اسناد او اصولنامی تصویب شوی ترڅو د خصوصی کارو باریانو ، متشبثینو داخلی پانګی په زغرده او شوق سره په کارواچول شی . د خصوصی سکتور د لا زیات تشویق په خاطر حتی امارتی صنعتی او تولیدی تأسیساتو کی هم په آسانه شرایطو د هیواد پانګه والو ته سهم ورکړ شوی او یاپه بشپړه توګه د دوی په اختیار کی ورکړ شوی . ترڅو کورنی داخلی پانګه په داده زړه د هیواد د اقتصادی

د روان کال په لمړی نیمائی کی د اسلامی امارت د انکشافی بودجی نه ۱۳ ملیارده افغانی د کرهنی د تأسیساتو د بیا جوړونی په کار کی لګیدلی دی . همدارنګه د وچکالی د آغیزو د مخنیوی لپاره لازم اقدامات ترسره شوی . د ا.ا.ا له لوری په دی رابطه په لومړی پړاو کی (۱۱٤۰) ملیارده افغانی تخصیص کړی شویدی .

دملګرو ملتو د خوراك او کرهنی اداری (FAO) په همکاری د هغی د څارویو د مصنوعی القاح برخه په کار اچول شوی د وربشمو چنجیو او د کبانو پروژی بیا فعالی شوی چی د مالدارانو ضرورتونه تر یوی اندازی پوری حل کوی . په ټولو ولایاتو کی د څارویو کلینیکونه بیا فعال او همدارنګه د هر زون په سطح د څارویو د ناروغیو د تشخیص او څیړنی مرکزونه فعال شویدی .

په ټول هیواد کی دری ملیونه اووه سوه زره څاروی د مختلفو ناروغیو په وړاندی درمل شویدی همدارنګه ۲٥٥ کلینیکونه د هیواد په دننه کی د څارویو د ناروغی د مخنیوی او درملنی په خاطر فعالیت کوی چی په دی کار کی د FAO ، مدبرا او ICRC موسسو مرستی د قدر وړ دی .

د روان کال په لمړی نیمائی کی د اسلامی امارت د انکشافی بودجی نه ۱۳

انکشاف د پاره په کار واچول شی . د خصوصی کیدنی ددی پروګرام نه په څینو عرصو کی په زړه پوری نتایج لاسته راغلی او د اقتصاد بیا احیا او انکشاف کار ته یی چټکتیا ورکړیده .

همدارنګه د بهرنی سرمایی د تشویق او د افغانستان د انکشاف او اقتصادی ترقی په کار کی د متقابلاً ګټور استعمال د پاره تقنینی او حقوقی میکانیزم تیاراو تصویب شوی او دامارت د فرمان په ترځ کی د ګاونډیو هیوادونو پانګه والو ته د مالیاتی او ګمرکی معافیت په شرایطو د کار بلنه ورکړ شوی چی انشاء الله ډیر ژر به ګټور نتایج تری لاسته راشی .

د خصوصی پانګو د تشویق په لړ کی د اسلامی امارت د اقداماتو نه په زړه پوری نتایج لاسته راغلی دی . د اسلامی امارت د ټینګیدو وروسته د خصوصی سکتور په کار کی د هلو ځلو له امله د مسافرو د لیږدونی په کار کی ۸٥ اتحاد یی فعالی شوی او اوس ۳٤٦۹۳ لیږدونکی ستری او کوچنی واسطی په ترانسپورتی خدمتونو لګیا دی .

د روان کال په لومړی ربع کی د کانواو صنایعو وزارت د تولیدی اوصنعتی موسسو د فعالیت له درکه ۱۱۲۷۱ ملیارده افغانی عواید ترلاسه شوی چی د تیرو کلونو په مقایسه بی ساری زیاتوالی ښیی . د شمال د تیلو او ګاز له تصدی نه د تیر کال په جریان کی ۳٥۳٤٤ ملیارده افغانی عواید لاسته راغلی .

همدارنګه د شر او فساد د ائتلافی اداری د واکمنی په دوران کی د ملوك الطوایفی او غل سالاری پاټکی نظام د ولایاتو او مرکز د ټیاری سیمو اقتصادی ، صنعتی او تولیدی مراکز هم له بیخه ړنګ ، تخریب او چور کړل .

د طالبانو اسلامی تحریك په همداسی یو حالت کی چی ددی تاریخی اسلامی هیواد حتی بوازی پاتی شوی نوم او موجودیت هم په خطر کی وو د هیواد د قاطع ته را ودانګل او په الهی نصرت او تکیه د خپلو خلکو په دعا او ملاتړ بریالی شول .

په همدی تاریخی لنډه موده او داسی شرایطو کی چی د شر او فساد بقایاوی لا تراوسه د خپلو وروستیو ځالو د ټینګولو د پاره بهرنی ریزرفونه استعمالوی او د امریکا شریر انحصاری پانګه وال نظام په منطقه او خاصتاً مرکزی آسیا کی د خپلو حیاتی سود پرستانه ګټو په خاطر یوه ورځ او لحظه هم زموږ د ویاړلی هیواد په وړاندی د هر ډول لاسوهنو او توطیو نه لاس نه اخلی ، د اقتصادی ، ټولنیزی پرمختیا او زوریدلی ولس د ژوند او معیشت پرابلمونه د اسلامی واکمنی د پاملرنی او مواظبت نه برخوردار او د اسلامی امارت په وړاندی لمړی درجه مقام لری .

د اسلامی امارت د همیشنی مواظبت له مخی د موجودو عینی مشکلاتو با وجود د اقتصاد په برخه کی د یادولو وړ بریاوی او لاسته راوړنی په بیلو بیلو ساحو کی وجود لری . د هیواد په اکثرو ولایتونو کی ویجاړ شوی تراکتورونه ترمیم شوی او په ډیره لږه

ملیارده افغانی د کرهنی د تأسیساتو د بیا جوړونی په کار کی لګیدلی دی . همدارنګه د وچکالی د آغیزو د مخنیوی لپاره لازم اقدامات ترسره شوی . د ا.ا.ا له لوری په دی رابطه په لومړی پړاو کی (۱۱٤۰) ملیارده افغانی تخصیص کړی شویدی .

د روان کال په لومړی ربع کی د کانواو صنایعو وزارت د تولیدی اوصنعتی موسسو د فعالیت له درکه ۱۱۲۷۱ ملیارده افغانی عواید ترلاسه شوی چی د تیرو کلونو په مقایسه بی ساری زیاتوالی ښیی . د شمال د تیلو او ګاز له تصدی نه د تیر کال په جریان کی ۳٥۳٤٤ ملیارده افغانی عواید لاسته راغلی . د پلچرخی د وړیو او بدلو فابریکه د اته کلن ځنډ وروسته بیا فعاله شوه . د کندهار نساجی نخی فابریکه بیا احیا کیږی چی دا فابریکه د خصوصی سکتور په همکاری او برخه اخستنه په راتلونکو لسو میاشتو کی بهره برداری ته سپارل کیږی . د پلخمری نساجی فابریکی ظرفیت اوس په ورځ کی لس زره متره توکر ته رسیدلی او دی فابریکی په روان کال کی تر اوسه بیلابیل توکران تولید کړیدی . د کرکر ، دودکش او آهندی د ډیرو سکرو معدنونه همدا اوس په ورځ کی (۹۳) ټنه سکاره استخراج او عرضه کوی . د دولتی سکتور د موسسو ترڅنګ خصوصی او مختلطو اقتصادی سکتورونو د اقتصادی زیر بنا د پیاوړتیا ،انرژی د تأمین او مخابراتی شبکو د تکمیل او انکشاف په کار کی د کتنی وړ بریالیتوبونه لاسته راغلی دی . د هیواد داقتصاد د ټولو ریزرفونو د فعالولو او هیواد والو ته د وطن د آبادی او

د روان شمسی کال د سرطان د میاشتی په اوایلو کی د خصوصی پانګی د ۳۰ تولیدی پروژو جوړول منظور شول چی لومړنی لګښت یی (۳٤ . ۱٤٦) ملیارده افغانی اټکل شوی او په دی کی به ۲۱٦٥ تنه هیواد وال په کار وګمارل شی .

همدارنګه د روان کال د سنبلی په اوایلو کی د یوی نیمی میاشتی په تیریدلو د خصوصی پانګی د انسجام بورد د نورو ۲۹ تولیدی پروژو جوړول تائید کړل چی لومړنی پانګه یی په مجموعی ډول ۹۱ . ٤۰ ملیارده افغانی او په دی پروژو کی به زموږ ۱۳۱٥ تنه هیواد والو ته د کار او فعالیت زمینی برابریږی .

پورتنی ارقام په ډیره لنډه زمانی فاصله کی د هیواد د انکشاف او اقتصادی ترقی په کار کی د پانګه والو هیوادوالو پوره شوق او هاند په ګوته کوی چی په ټولو ساحو کی د اسلامی امارت د زمینه جوړونکو تسهیلاتو په هیواد کی د داسی من امنیت د تأمین او اقتصادی کارو بار د پاره د پاملرنی وړ آسانتیاوی د موجودیت ښکارندوی دی .

خو کله چی د بریاوو او ارقامو د خپل مجاهد ، زوریدلی او په بیوزلی محکوم شوی ولس د موجودو ستونزو او ناخوالو سره پرتله کړو باید وویل شی چی د اقتصاد او خلکو د معیشت د پرابلمونو په حلولو کی

زموږ کار او فعالیت لا د قناعت وړندی . لا تر اوسه د اقتصادی انکشاف اوهولس د معیشتی پرابلمونو د حل د پاره ډیر پراخه ریزرفونه او امکانات په کار نه دی اچول شوی . د اقتصاد ی ادارو د مسئولینو او چارواکو مواظبت او لاس نیوی لکه څنګه چی د اسلامی خلافت د نظام غوښتنه او ایجاب دی د ولس او ټولنی د افرادو خصوصاً فقیرواو نادارو طبقو او اقشارو ترحده او سطحی پوری ندی رسیدلی . د چارو مسئولین د اقتصاد د دولتی ، مختلطو او خصوصی تولیدی او خدماتی اداروا و شبکو وضع له نژدی نه ګوری او خاصتاً په دی ځانګو کی د محنت کوونکو د حال نه بی خبره دی ، څنی چارواکی په اکثره حالاتو کی خپل زیات وخت په دفترونو کی د حاضری په امضا کولو ، د کاغذونو او مکاتیبو په لیکلو او تبادله کولو مصرفوی دوی انتظار کوی چی د خلکو ستونزی او مشکلات پخپله د دوی دفتر ته راشی او بیا دوی په خپل وار په کاغذ باندی د خپلی برخی «مسئولیت» د رفع کولو امضاً ولګوی خو پخپله د نژدی څخه د ستونزو د کتلو او حلولو په خاطر د کار ځایونو ته د تګ زحمت نه قبلوی . په څینو ارګانونو او ادارو کی حتی د اداری فساد ، سؤ استفادی ، بیرو کراسی او کاغذ بازی موارد اوامراض هم په سترګو کیږی . که موږ د اسلام او اسلامی نظام د موقف نه د موجودی وضعی او دمسلمانوخلکو او اسلامی امت په وړاندی د څینو چارواکو دا ډول برخورد ته وګورو باید ووایو چی متأسفانه لا تر اوسه د اقتصادی ستونزو او دولس د پرابلمونو او مشکلاتو په وړاندی مسئولیت او مواظبت په پوره ډول نه دی ترسره شوی او په دی برخه کی لا زیاتی هلی ځلی او پوره کارونه لا په وړاندی لرو ، ځکه د اسلامی نظام برتری د نوروِنظامونو په تفاوت د انسان او رعایایو د مواظبت او خدمتګذاری په کار کی برتری او بهتری ده .

امریکا ، روس او لویدیز دپانګه وال سود خوری نظام ستدر غاړی ځکه په اسلام کی د «ایدیالوژیکی» کمبود ناری سرکوی چی غواړی دلته بوځلی بیا کومه نوی تګ لاره ، فلسفه ، اقتصاد او جامعه شناسی پیاده کړی . داسی ایدیالوژی او تفکر چی روسیه یی د سمندر په تل کی ډوبه کړه او امریکا به دستورو په جګړه کی ددی ارتی فضآ او هوا په زرو کی د خپل ټول تکبر سره نابوده کړی !!!!

د داسی ډول «ایدیالوژی» او تګ لارو ته ، بیوزلی خو ورسره آزادی څو واره بهتره ده .

د سیاسی ، اقتصادی اداری د پاره په اسلام کی همدومره سبق او درس کافی دی : چی د رسول پاك (ص) او خلفاوو عملی برخورد او رویه مطالعه او تطبیق کړو ، یعنی داچی کله د اسلام پیغمبر (ص) د یوه سوالګر لاس نیسی او دده د کورساماِن ورسره د تیر او رسی د رانیولو د پاره خرڅوی او بیایی د حال پوښتنه کوی !!!! .

او یا حضرت عمر (رض) د خپل ګشت په وخت د کونډی ، بیوزلی میرمنی د کڅوړی نه سر پورته کوی ؟!! . که دا ډول برخورد بیګانه ته نو پورته د پرلو مسئولینو او چارواکو په عادت بدل شی ، بی له شکه به د دنیا د هر ډول ایدیالوژی طراحان ریښاسی واکمنان دخپل ولس لپاره د اوخواته نژدی کیدو د پاره د اسلام د پیروی نه غیر بله لاره اختیار نکړی .

عدل او انصاف د اسلام په رڼاکي

د عدليې وزارت له خپرونو څخه

الله (ج) دټولنيز ژوند دصحت اواکمال له پاره په عدل اوانصاف حکم صادرکړيدي اوالله (ج) داسي فرمايلي :
(بيشکه الله تعا لئ په عدالت اونيکي کولو حکم کوي) عدل دقانون داقتضااواحسان داخلاقو مطالب دي .خداي(ج)دټولني دنظم دساتلو لپاره لومړي دعدل حکم ورکړي وي اوبيايي داحسان تاکيدکړي دي اوداکار داشخاصويه روحي بشپړتيا کي پوره اغيزه لري له همدي کبله الله (ج)دژوندانه په ټولو څانگوکي دعدل اوانصاف مراعات ساتلو حکم ورکړي تردي چي کـه بو سړي څوښځي په نکاح کړي وي دهغوي په منځ کي خداي پاك ميړه په عدالت سره مامور کړي اوکـه عدالت نشي کولاي نو بوازي يوه ښځه دي وکړي .همدارنگه ديتيمانو دحقوقو دحفاظت لپاره هم عدل اوانصاف ضروري گڼل شوي دي .
په عاموعماملاتو کي داخيستلو اوخرڅولو په شيانو کي عدالت يو ضروري کاردي همدارنگه دمحکومو په معاملاتو کي دعدل دريلحاظ ساتل په کاردي دشهادت اوفيصلي په وخت کي له عدالت اوانصاف څخه تيريدنه ناروا اوظلم دي ولوکه په يوه خوابي خپلوان هم وي مطلب داچي خپلوي اونوري اړيکي بايد بي انصافي ته څوك اړنکړي اونه دښمني بايد څوك له انصاف څخه منع کړي تردي چي دخپل نفس په مقابل کي دعدل اوانصاف دقانون مراعات ساتل ضروراولازم دي .په فيصله کي دترحم اوعاطفي په اثرله حق څخه په بله خوا حکم کول هم بي عدالتي ده دمثال په ډول په يوه بيوزلي اومظلوم چي کومه گناه ورڅخه شوي وي بايي له قانون څخه تيري کړي وي زړه سوي چي په ظاهرکي به ښه ښکاري خودحق په مقابل کي بده خبره ده لنډه داچي دعدل اوانصاف په لاره کي هره جذبه چي منځ ته کيږي حاکمان بايد دهغه په وړاندي دهغي جذبي اواړيکي پرواونه ساتي له ټولونه لومړي عدل دالله (ج)صفت دي اودالله (ج)ټولي فيصلي اواموريه عدل اوانصاف بنادي الله (ج)داسي فرمايلي دي (ستا درب خبره په صداقت اوعدالت پوره شوي ده)نوځکه د(الفقه الاسلامي وادلته)دشپرم جلدپه (٦١٧)مخ کي دهمدي کتاب مصنّف داسي ليکي په تحقيق سره عدل په دنيااوآخرت کي دټول عالم برابر والي دي .همدي عدل په وجه ځمکي اواسمانونه ولاړدي .همدغه عدل دواکداري اوپاچاهي اصل اوبنيادي مگرظلم دښارونو اوپاچاهيو دتباهي اوبربادي لارده دمصنف د پورتنيو خرگندونو له مخي په ډاگه شوه چي عدل کول داسلامي امت دحکمرانانو اومسولينو دکاميابي اود ښارونو دآبادي سبب گرځي او ظلم کول ددوي ددنيااوآخرت ذلت اوتباهي ده ددي مقصد دپلي کيدو لپاره آنحضرت (ص)په يوبل حديث شريف کي فرمايلي دي :
باخبره اوسي هريو له تاسو څخه حيثيت دراعي لري اودخپل رعيت نه مسؤل دي نو ځکه هرمسؤل ته ضروري ده کـه لوي وي ياکوچني .غټه مشروي يادلگي مشر.وزيروي يامعين .ريس وي يامدير چي پرخپلو ماتحتو ظلم ونکړي فقط هريو دخپلي ورسپارل شوي دندي په ترسره کولو مکلف او مسؤل دي کـه چيري دمشرانو لخوا دوي ته دکارونو داصلاح په منظورکومي توصيي لارښووني دناقيڼو قوانينودحکمونو په رڼاکي دشرعي نظام دپيگښت په خاطرورکول کيږي دادظلم په معني نه بلکي ددوي مسؤليت اومکلفيت بلل کيږي اودقيامت په ورځ به دوئ بيامسؤل بلل کيږي د روح البيان د شپږم جلد په (٩٧) مخ کي راغلي دي وايي کله چي هارون الرشيد پاچا د حج له اداء کولو وروسته راستون شو په کوفه کي تم شو . کله چي له کوفي څخه ووت بهلول نومي ليوني يي مخي ته ودريد او په لوړ اواز يي وده ته دري ځلي زغ وکـړ چي اي هارون الرشيده ، هارون الرشيد په تعجب کي شو . چا ورته وويل چي بهلول ليوني دي . دي هم سمدستي ودريد او پرده يي ليري کړه ځکه ده به چي کوم وخت له چا سره خبري کولي د پردي ترشا به يي کولي :هپاچا ليوني ته وويل آيا ته ما پيژني ؟ بهلول ورته وويل هو ييا يي تري سوال وکړ . زه څوك يم ؟ بهلول ورته وويل ته هغه څوك يي کـه يو څوك په مشرق کي ظلم وکړي او ته په مغرب کي يي الله (ج) به له تا څخه ددي ظلم پوښتنه کوي آن تردي چي هارون الرشيد دده ددي تاثيرناکي او له محتوا ډکي خبري څخه په ژړا شو .
په ربښتيا هم کـه چيري د يوه حکومتي مسئول په حکم پر لاندي کسانو هر څوك ظلم وکړي له بد اخلاقي ، بيت المال او د وخت له غلا کولو څخه کار واخلي ، ددي ټولو پوښتنه به په ورځ د قيامت له اړونده مسئول نه هم کيږي . همدا راز په يو بل حديث شريف کي د حضرت بي بي عائشي (رض) څخه روايت دي وايي چي په کور کي مي د رسول (ص) څخه واوريدل چي ويي فرمايل : اي پروردگاره هرکله چي يوڅوك زما د امتيانو د کارونو واگي په لاس کي ونيسي او د سختي او ظلم څخه کارواخلي پر هغه سختي راوله او که يي پر دوي رحم او مهرباني کوله بيا په هغه رحم وکړه . د پورتني حديث شريف څخه دا معلومه شوه چي هر مسئول بايد د عدل او ترحم څخه کار واخلي يدي صورت کي به الله پاك له ده سره مل وي او رحم به پري وکړي او که يي ظلم وکړ نو الله (ج) به يي د ظلم سره مخامخ کړي .

مؤلف : دکتور عبدالرحمٰن رأفت باشا - مترجم : بشار

داصحابو دژوند پلوشي

۲۵

بيا چي ابوبکر الصديق الهي پيغمبر ته ورنژدي شواو ويي غوښت چي دو سپيني دخولي دوي کړي وياسي نو ابو عبيده ورته وويل : سوگند درکوم چي ته به داماته پريږدي . ابوبکر دکړ يو ويستل ابو عبيده ته پريښودل مگر ابو عبيده ددي ويره کوله چي کـه داوسپيني کړي په لاس وباسي نو په دي سره به رسول الله ته درد تکليف ورسيږي نو دوسپيني يوه کړي يي دڅنا يا (مخامخ) غاښونو کلکه و . بيا هغه بله کړي په غاښو نو ونيوله او چي کړي يي وويستله دهغې په ويستلو سره دهغه بل غاښ ولويد . ابوبکر وويل : ابو عبيده دخلکو په نسبت په خپل اهتم توب سره دير ښکلي و ابو عبيده په ټولو غزاگانو کي دمريني تروخته درسول الله صلي الله عليه وسلم سره گډون کړي دي . دسقيفي په ورځ عمربن الخطاب ابو عبيده ته وويل : لاس دي راکړه څوتاسره بيعت وکړم ځکه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي ويل به يي : «دهرامت دپاره امين شته » او ته ددي امت امين يي .

ابوعبيدة وويل: نه غواړم له هغه سړي څخه چي درسوالله صلي الله عليه وسلم په امرسره په لمانځه کي زمو نږامامت وکړي مخکي شم بيا دابوبکر الصديق سره دخلافت بيعت وشو ،او ابو عبيده دهغه دپاره دحق په ناصح او دخير په لاره کي ښه مرستيال و . بيا ابوبکر دخلافت وظيفه فاروق (عمر) ته ورپه غاړه کړه ،او ابوعبيده له هغه څخه هيڅ مخالفت ونکړ . مگر يو ځل يي مخالفت کړي دهغه بيان چي داسي کيږي : هغه څه وچي ابو عبيده دهغه په باب دخليفه دامر منته نه وه کړي؟
هغه داسي وچي کوم وخت ابو عبيده بن الجراح دشام په ځمکه کي دمسلمانانو دلښکر ومشرتوب کاوه او مسلمانان يي دپرله پسي بريالبتو يونو او فتوحاتو سره مخامخ کول تردي چي دشام ټولي ځمکي يي فتحه کړلي او دختيځ په لور فرات اودشمال په لوري اسپاي صغري ته ورسيده نو بيا په دغه وخت کي چي په شام کي دطاعون ناروغي خپره شوه او په خلکو کي يي دديري مريني لوگډ کړ عمربن الخطاب دي ته اړشوچي ابو عبيده ته فرمان وليږي او داسي ورته وليکي :« تاته زما ضرورت پيداشوي او دهغه په باب يي له تانه بله چاره نه وينم که تا ته زما ليک دشپي له خوادرورسيد نو زه له تانه په کلکه غوښتنه کوم چي شپه سبانه کړي او ژر زما په لوري سپورر را روان شي او که تاته زمالیک دروځي له خوا دررسيدلو له تانه په کلکه هيله کوم چي ورځ بيگانه کړي او ژرزما په لوري سپوررا روان شي » کوم وخت چي ابو عبيده ته دفاروق ليک ورسيد اوابو عبيده دهغه ليک ولوست توبي وويل : زه دامير المومنين په حاجت چي ماته يي لري ويوهيدم . هغه غواړي چي دخلن څخه وروسته هغه څوك پريږدي چي هغه پاتي کيدونکي نه دي بيا يي ورته داسي ولیکل اي امير المومنينه ! زه ستا په حاجت چي ماته يي لري ويوهيدم او زه دمسلمانانو په لښکر کي يم او زه نه غواړم له هغه څه څخه چي هغوي ته رسيدونکي دي ځان بچ کړم او زما او دهغوي په منځ کي بيلتون وشي بلکي زه داغواړم چي الله زما او دهغوي په باب خپل امر ترسره کړي ، کله چي زما دغه ليک دررورسيدلو ماله خپل تصميم څخه بچ کړه ،او ماته دپاتي کيدلو اجازه وکړه عمر چي دابو عبيده ليک ولوست نو په ژړاشو او له سترگو څخه يي اوښکي وبهيدلي ناستو کسانو چي دعمر ژړاولېد له نوورته يي وويل اي اميرالمومنينه ! ايا ابو عبيده مړشوي ؟ هغه وويل : نه ،مگر مريني ته نږدي شوي دي :دفاروق گومان دروغ نشو بلکي هماغه وچي ابو عبيده ډير ځند ونکړ چي هغه دطاعون په ناروغي اخته شو ،او بيا چي مريني ته نژدي شو خپل لښکر ته يي داسي وصيت وکړ :زه تاسي ته وصيت کوم که تاسي هغه ومانه نو تاسي به تل په خيراوسي . هغه داچي : تاسي لمونځونه بيه اداکوي ، درمضان دمياشتي روژه نيسي ،صدقه ورکوي ، حج او عمره اداکوي ، يو بل ته وصيت کوي ، اميرانو ته نصيحت کوي او دهغوي سره خيانت او ټگي مه کوي ، په دنيا مه تيروځي ، ځکه کـه سړي زرکاله ژوند وکړي بيا هم زما دمريني حالت ته چي تاسي يي وينئ رسيدونکي دي .والسلام عليکم ورحمت الله بيا يي معاذبن جبل ته وکتل او ورته يي وويل :اي معاذه ! نه خلکو ته لمونځ ورکړه بيا يي څه ځندونکړچي پاك روح يي ووت . بيا معاذ ودريداو ويي وويل :اي خلکو ! تاسي ته ديوه سړي مصيبت ورسيد په الله سوگند ماداسي سړي ندي ليدلي چي دهغه څخه دخوراپاکي سينې لرونکي او دشر څخه ډيرلري کيدونکي دعاقبت ډيرخوښونکي ، او عامو خلکو ته ښه نصيحت کوونکي وي ، نو پرهغه ورحميږي څوالله پرتاسي رحم وکړي .

پاتي لري

لاروی ته

شهيد عبدالبصير « عبرت »

اي مسافر داي ستومانه باره | ښکلي منزل دي لامزلونه غواړي
دغه له تورو شپونه دکه دنيا | ستا دسرووينو مشالونه غواړي
ددي زاړه زندان په تورو شپوکي | څومظلومان لازولانه پراته دي
ستاد اميد درمي کوزه خواکي | يو ،دوه ليوان لابه درانه پراته دي
لادفلک په زړه کي غلي توپان | ستاد غيرت دشمي مرينه غواړي
لاخودوربخو هيتسنا کـه تنيا | داستا دهيلو جرگه خورينه غواړي
خوته بيا که ، په پراخه سينه | هدف ته درو مه او مزلونه وهه
دلوړ تکل په تيره توره بياندي | دهرباغي توپان سرونه وهه
په دنگو غروکي زلزلي راوله | دغليم زړه ته ټکانونه ورکړه
دهر ملگري و سـاړه ټټرته | راپاروونکي سره اورونه ورکړه

د انقلاب ضربه !

استاد فضل ولی « ناگار »

سکون وهلي جـال ضربه د انقلاب غواړي | خائن سزا او مجاهد ملت حساب غواړي
په خداي قسم د شهادت د کاروانو ميره | بيدښضا د قافلي واگي تناب غواړي
ما به تل نه ويل چي شکست نه خوري غوليري مدام | اوس هم وخت شته دي خو قانون ام الکتاب غواړي
د ستونزو غوځه چوکۍ نه ده د محراب خاوري دي | ابو ذري فداکاري ابو تراب غواړي
د وخت په نبض گوتي ږده بيادي ناروغه دښمن | په مدينه د جهاد لوبي داحزاب غواړي
په عيش هوس دا د گمراه تهذيب ولاړه ماني | ستره جتکه د ياغون خانه خراب غواړي
په قرباني دي نجات ومووند لويمني دنيا | د نفاق اوردي هم د سرو وينو تيزاب غواړي
د حماسو تاريخ کي کمه په يوه پاڼه وي | چي د عظمت د يادښت بل رنگينه باب غواړي
ناگاره ! تال کي د امت د بندي ورځ راوستل | زخمي سينه يکي دردمن زړگي کباب غواړي

د(۱۳۷۸) دتلي له (۷) مي نيټي نه د(۱۳۷۹) دتلي تر(۷) مي نيټي پوري دهيواد دمهمو پيښو کرونولوژي

*د ۱٤۲۰دشوال په ۱۱مه د۱۳۷۸دمرغومي په ۲۹مه دملگروملتونو لخوادافغانستان لپاره نوي ځانگري استازي فرانسس ويندرل وټاکل شو.
*د ۱٤۲۰دشوال په ۱٦مه د۱۳۷۸دسلواغي په ۳مه دچيچنيا سفارت په رسمي توگه په کابل کي پرانستل شو.
*د ۱٤۲۰دشوال په ۳۰د۱۳۷۸دسلواغي په ۱۷مه داريانالافغان هوايي کرښي الوتکه ديرغمل کوونکو لخوا وتښتول شوه اوله څلوروڅني سفره وروسته په انگلستان کي راکوزه شوه .
*د ۱٤۲۰دذوالقعدي په ۱۲مه د۱۳۷۸دسلواغي په ۲۹مه دبغلان ولايت داندراب په ولسوالي کي دمخا لفينو يو تن قوماندان نسيم احمد له خپلو ۲۰۰تنو وسله والو کسانو سره داسلامي امارت له ځواکونو سره يوځاي شو.
*د ۱٤۲۰دذوالقعدي په ۱٤مه د۱۳۷۸دکب په لومړي نيټه دکاپيسا په ولايت کي ۱۲تنه مخالف قوماندانان له خپلو ٤۰۰تنو وسله والوکسانو سره داسلامي امارت له ځواکونو سره يوځاي شو ل.
*د ۱٤۲۰دذوالحجي په ۱د۱۳۷۸دکب په ۱۷مه داسلامي امارت هيئت په جده کي داسلامي کنفرانس په دايرشوي غونډه کي دبهرني دوزيرمحترم ملاامير خان متقي په مشري گډون وکړ.
*د ۱٤۲۰دذوالحجي په ۲۰مه د ۱۳۷۹دوري په ۷مه تورن اسمعيل دکندهارله مرکزي محبس څخه دحاجي قديردځوي په ملتيا په تيښته بريالي شو .
*د ۱٤۲۰دذوالحجي په ۲۹مه د۱۳۷۹ وري په ۱٦مه دکندزوالي حاجي محمد عارف خان په پيښورکي په شهادت ورسيد.
*د۱٤۲۱ دمحرم په ۲۱مه د ۱۳۷۹ دغوايي په ۷مه په هيواد کي دکمونستي نظام دړنگيدو په وياړ داسلامي امارت ديوه فرمان له مخي ۳۰۰تنه بنديان له څرخي پله زندان څخه خوشي شول .
*دمحرم ۲۵مه د۱۳۷۹ دغوايي په ۱۱ په لغمان کي دمخا لفينو يو تن قوماندان عبدالله جان واحدي له خپلوټولو وسله والو افرادو سره داسلامي اردوله ځواکونو سره يو ځاي شو .
* د۱٤۲۱ دمحرم الحرام په ۲۷ دغوايي په ۱۳ دامارت ديو فرمان له مخي نابينا حافظانو ته ددوي دژوند ترآخره پوري د۳ بست معاش دوړکيدو پريکړه وشوه .
* دصفر المظفر په لومړي نيټه د۱۳۷۹ دغوايي په ۱٦مه دغورولايت يوتن مخالف قوماندان عبدالله جان حافظ له خپلو وسله والو افرادو سره له اسلامي امارت سره يوځاي شو .
* دصفر المظفر په ۱۳مه د۱۳۷۹ دغوايي په ۸مه استخباراتي موظفينو ديوه تنه عربان چي اسرائيلي او امريکايي جاسوسي ښکونه ئي کار کاوو ونيول شول.
* دصفر المظفر په ٦ د۱۳۷۹ دغوايي په ۲۱ مه دسرپل ولايت يو تن مخالف قوماندان شهنواز له خپلو ٤۰ تنو افرادو سره له اسلامي امارت سره يوځاي شو . * د۱٤۲۱ دصفر المظفر په ۲۷ د۱۳۷۹ دغبرگولي په ۱۱ دازبکستان جيټ الوتکو دهيواد پهشمالي حريم هوايي تيري وکړ

دعالیقدر امیر المؤمنین . .

استطاعت او د منلو وړ اقتصادي ظرفیتو ونو سره سم داقتصادي او لویښو نو او رجحاناتو په مقصد او په دې وسیله دافغانستان داسلامي امارت داقتصادي مسئلو او ستونزو دحل کولو او دملي او نړیوالو شرایطو له په پام کې نیولو سره د اقتصادي فعالیتونو دهماهنګ او انهولیز تنظیم او سمون په مقصد دافغانستان داسلامي امارت دریاست الوزرأ داقتصادي مرستیال په مشري او دپلان دمحترم وزیر دمالیې دمحترم وزیر دسوداګرۍ دمحترم وزیر ، دکانو او صنا یعو دمحترم وزیر دفوایدعامې دمحترم وزیر دکرنې دمحترم وزیر داوبو او بریښنا دمحترم وزیر ، دچارودادارې دمحترم لوي رئیس او دافغانستان بانک دمحترم لوي رئیس په ترکیب دافغانستان داسلامي امارت اقتصادي عالي کمیسیون منظور دی . دافغانستان اسلامي امارت دریاست الوزرا محترم اقتصادي مرستیال په لازموو ختونوکې کولای شي داقتصادي کمیسیون په ترکیب کې نوي غړي ورزیات کړي اقتصادي عالي کمیسیون له برابر شوي پروګرام سره سم په منظمه توګه خپلې غونډې جوړوي او دافغانستان داسلامي امارت دټولنیز وسیاستو نو په پام کې نیو لو سره دافغانستان داسلامي امارت داقتصادي او سیاسي پالیسیو په چوکاټ کې دمهمو موضو عګا نو او جریاناتو په باب په لازمه توګه دقت وکړي او په ملي او نړیواله سطحه دي داقتصادي بدلونونو په وړاندې دافغانستان ددریغ په اړوند داسلامي امارت واکمنو مقاماتوته لازمي سلا مشورې وړاندې کړي .

داسلام خادم

امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد

در مربوطات ولایت تخار . . .

وپشتیباني از امارت اسلامي افغانستان ابراز آماده گي نمودند که با ایثار نمودن سر وجان از حاکمیت اسلامي در کشور دفاع خواهندنمود

داسلامي پرمختیا بانک . . .

پروګرامونو دعلمي تجهیزاتو لابراتوا ري مواد واو دتجربوي سامان آلاتو او لوازمو په برخه کې د پوهنځیو داړتیا وپه باب څرګند ونې وکړي او ددغو اړتیا وفهرست یې په تفکیک او کتګورۍ سره دغه هیات ته وړاندې کړ . په مقابل کې محترم انجنیر احمد علي او محترم انجنیر حسن جابر الجوهیني داسلامي پرمختیا بانک دهیات نماینده ګي دتحصیلي موسسو داړتیا واو مشکلاتو له لرې کولو سره دمینې په څرګندولو سره دکابل دطب پوهنځي او له نورو پوهنځیو سره ددغه بانک دراتلونکو مرستو او همکاریو په باب د لوړو زده کړو وزارت معین ته ډاډ ورکړ.

دستګاه تصفیوی آب و . . .

مبرود سي وسه حلقه چا ه ګاز ودر فابریکه خواجه ګوګردك۲۸ حلقه چاه ګاز وجود دارد که در ۲٤ ساعت از فابریکه ګاز خواجه ګوګردك یك ملیو ن متر مکعب ګاز استخراج وبه ولایات جوزجان وبلخ به شمول فابریکه کود وبرق مزار شریف توزیع میګردد. در محفلیکه بمناسبت نصب مجدد دستګاه متذکره دایر ګردید ه بود محترم ملا محب الله والي ولایت جوزجان ضمن توضیح وتشریح ارزشمندي به بهره سپردن تاسیسات اقتصادي کشور از زحمات و تلاش هاي انجنیران ومنسوبین تصدي افغان ګاز که در قسمت فعال نمودن مجد ددستګاه تصفیه ګاز بخرج داده اند قدرداني نموده ایشان رامورد مکافات نقدي قرار داد.

پنځو غیر حکومتي . . .

خبرنۍ وروسته پنځو کورنیو او بهرنیو غیر حکومتي خیریه موسسو ته په هیواد کې دکار او فعالیت اجازه ورکړشوه .

دفلسطین دخپلواکۍ . . .

کړي ده چي دهغي پرینسټ که چیرې فلسطینیان په بو اړ خیزه توګه دخپلو اک دولت جوړیدل اعلام کړي دامریکا دمرستو دتحریم له مجازاتو سره به مخا مخ شي دامریکا دبوي رسمي سرچینې له خولې په دغه شان حالت کې به فلسطینیان بوازي دامریکا بشرپالي مرستي ترلاسه کړي او نوري ټولي مرستي به له لاسه ورکړي ټاکل شوي ده دغه لایحه دامریکا دسنا مجلس دتصویب لپاره ولیږل شي .

سیلاب هادرنجراب . . .

ولسوالي نجراب سرازبرګردیدبرعلاوه خسارات مالي که به چارصد فامیل در آن منطقه بیار آورده است هفده محراب مسجد نیز شهید ګردیده است همچنان موازي دوهزار وهشتصد جریب زمین زراعتي از بین رفته ودوصدو پنجا ه راس مواشي به هلاکت رسیده است.

دعدلیې وزارت معین . . .

دحقوقي او مدني څانګي له کارکوونکي محترمي نجلا شاقیي سره دکتني په ترڅ کې څرګندکړ دعدلیې وزارت محترم معین په افغانستان کې دحقوقي اومدني مسئلو په اړوند دافغانستان داسلامي امارت داقداماتو په باب دافغانستان لپاره دملګرو ملتو د سازمان د خاص دفتر د حقوقي او مدني څانګي محترمي کارکوونکي ته معلومات ورکړل او ویې ویل چي په دا شان مسئلو سره داسلامي امارت چلند په بشپړه توګه داسلامي او قرآني حکمونو په رڼاکي کیږي او دافغانستان ټول خلک له هغو حقوقو او وجایبو څخه برخمن دي چي داسلام مبین دین وربانـدي ټینګار کـړي دي .

[illegible] . . .

کنفرانس پربروز با شخصیت روحاني تنظیم جهاني اسلامي المرابطون محترم شیخ عبدالقادر صوفي که کنفرانس متذکره به ابتکار آن تنظیم وتدو بر ګردیده است . در رابطه به پالیسي امارت اسلامي در قبال مسایل ملي وبین المللي صحبت نموده دست اوردهاي امارت اسلامي راکه با تنفیذ کامل شریعت اسلامي صورت ګرفته یکا یك برشمرد هیات امارت اسلامي همچنان از تحکیم وتوسعه روابط دوستانه وبرادرانه با جهان اسلام وسایر کشور هاي جهان سخن ګفته خواهان احترام وهمکاري متقابل ګردید موصوف ګفت امارت اسلامي افغانستان علاقمند است تا با کشور هاي اسلامي روابط برادرانه وبا سایر کشور ها به اساس احترام متقابل روابط تامین نماید . بالمقابل شیخ عبدالقادر صوفي با شنیدن واقعیت ها اظهار خوشي نموده ګفت امارت اسلا مي افغانستان چنان نظام مثالي اسلامي رادرافغا نستان قایم نموده که براي سایر کشور هاي اسلامي افتخارا است موصوف از جانب خود تاکید ورزید که بیش از این هم باید هیات هاي کشور هاي اسلامي تبادله ګردد وي افزود در آینده نزدیك یك هیات از جانب ما به افغانستان سفر خواهد نمود موصوف تاکید نمود که جهانیان رااز واقعیت هاي افغانستان آګا ه نموده و هیات امارت اسلامي ملاقات هاي رابا سران جمعیت العلما ي افریقاي جنوبي انجام داده وانها را در جریان حالات افغانستا ن قرار دادا ست سران جمعیت العلما آماده ګي شان را جهت دوام وتوسعه روابط با امارت اسلا مي افغانستان ابراز داشته از کمك هاي همه جانبه شان با امارت اسلامي اطمینان دادند أنها آمدن هیات امارت اسلامي را به افریقا ي جنوبي یك ګام مثبت خواند ند همین ګونه هیات امارت اسلامي با نماینده ګان هیات هاي چیچینیا ، ترکیه والمغرب نیز طور جداګانه دیدار نموده که هیات هاي متذکره با آګاهي از واقعیت هاي افغانستان اظهار خوشي نمودند طبق یك خبردیګر کنفرانس الفقه الاسلامي به اشتراك مفتیان بزرګ وعلماي تمام کشور هاي جهان اسلام بعدازاداي نماز جمعه دیروز در اریتریا مرکز افریقا ي جنوبي آغاز یافت که براي سه روز دوام مي نماید .

په ارزګان کې . . .

مرکز او مربوطاتو کې شپږ جریبه ځمکه دبنګو دبوټو څخه پاکه شوه دغه راز دمخدره مواد ومنفي پایلي او ناوړي اغیزي هم خلکوته بیان شوي او ټینګاروشو چي له منکرواو مفسد وعملو نو څخه چي ټولنه کې داخلاقي او ټولنیز ومفاسدو سبب کیږي ډډه وکړي دبوبل خبرله مخي دغوموظفینو ددغه ولایت له مربوطاتو څخه دسازاو آواز بو شمیر مبتذل کستونه او وسایل هم ترلاسه کړي دي همدارنګه دبو بل خبرله مخي په دي وروستیو وختو کې دپکتیا ولایت دامربالمعروف او نهي عن المنکر دریاست موظفینو دزرمت ولسوالي په مربوطاتو کې څلور جریبه ځمکه دبنګو له بوټو څخه پاکه کړه او کروندګرو ته یې لازمي توصیي وکړي

په چغچران کې دلیلیه . . .

ددغي مدرسې دبنسټ دډبرې دایښودلو په مراسموکي چي دغورولایت دمرکز چغچران په ښارکي دڅلورجریبه ځمکي په ساحه کې جوړیږي دغورولایت مرستیال محترم مولوي غلام احمد محمدي او دسیمي یو شمیر خلکو او چاروا کو برخه اخیستي وه . ددغي مد رسي دوداني په جوړولوکي دلوست نهه خوني او کتابتون په پام کي نیول شوي دي .

دننګرهار ولایت . . .

کي دبو ي خوني دجوړولو کار په بشپړه توګه سرته رسیدلي . دغه مطلب دننګرهار ولایت بو ي مسئولي منبع زمونږ له خبریال سره دمرکي په ترڅ کي څرګنداو زباته یې کړه : له غزګي نه ترتورخم پوري دلوبې لارې دبیا رغوني مقدماتي چاري هم په دي وروستیو وختو کي بشپړي شوي او اوس یې دقیر اچولو چاري پیل شوي دي . دغه راز داکلو موسسي سره دبوه قرار داد په اساس به دکونړ ولایت له مرکز اسعدآباد نه دترنګ ترولسوالي پورې لارې دجغل اچولو او بیا رغوني چاري دا.ا.ا. دبودجي په مرسته دبیرژر پیل شي .

دتنګي سیدان . . .

نواو ناچادلو مهماتو له شته والي څخه پاکه کړي ده .ددغي سیمي محترم اوسیدونکي دي خبروي

په ارغنداب کې . . .

افغانیو په لګښت په پاخه او اسا دول جوړ شوي دي په بوه وخت کې بو سلو پنځو س تنه لمو نځ کوونکي پکې ځا ېږ په دي جومات کي دبنځو لپاره هم داوداسه ځاي اودلمانځه داداکولو ځاي په جلا ډول په پام کي نیول شوي دي . دغه جومات ورمه ورځ په داسي حال کي چي بو شمیر امارتي چارواکي هم حاضر و دفوابد عامي دوزیر محترم مولوي احمد الله مطیع او دکورنیو چارو وزارت داداري معین محترم مولوي نور جلال له خوا پرانیستل شو په هغي غونډه کي چي له همدي امله ورمه ورځ ما زدیګر په دغه جومات کي جوړه شوي و دستري محکمي مرستیال محترم مولوي رفیع الله موذن دپلان وزاروت معین محترم محمد موسي هوتک دکورنیو چارو وزارت دپلټني رئیس محترم مولوي حاجي محمد دبهرنیو چارو وزارت دقنسلي اداري رئیس محترم مولوي عبدالباقي حقاني

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

او دالرشید ترست موسسي رئیس محترم عبدالهادي ملاخیل دمسلمانانو دعبادتد پاره دجوماتو نو او دمقدسه اماکنو دجوړولو داهمیت او ارزښت په باب خبري وکړي بو مربوط خبر ځاي په دي باب ووبل : دالرشید ترست موسسه دحضرت ابو بکر صدیق «رض » دجامع جومات په جوړولو سربیره چي دکابل کندهار دلوبې لارې په اوږدوکي جوړ کیږي دي په پام کي لري چي دکابل تورخم دلوبې لارې په اوږدوکي دمسافر انو لپاره دلمانځه داداکولو په مقصد پنځه دېرش جوماتو نه جوړ کړي. دغه راز دڅلو رو جوماتو نو دجوړولو کار به چي دکابل کندهار دلوبې لارې په اوږدوکي پیل شوي دي په نژدې راتلونکي کي بشپړ او دلمونځ کوونکو داستفاده وړ وګرځي

درياضي . . .

وړاندي کړل . وروسته دعلومو اکادمي لوي رئیس محترم مولوي خلیل الله فیروزي دموضوع په باب خبري وکړي په پاي کي محترم مولوي فرید الدین محمود دکنفرانس کارمشبت وباله .

افغان پرمختیا یي . .

لویدیځ دتنظیمیه ریاست دپلان رئیس محترم مولوي شیرآغارشیدي دباختر اطلاعاتي آژانس خبریال ته وویل دواني وچکالي داغیزو دکمښت او ترڅکمي لاندي او بوڅخه د استفادي په مقصد داي ډي اي مؤسسي یا دافغان پرمختیا یي موسسي دکندهار ښار دمحشور تیمو ریانو انګوریانو کاریز ک روح آباد سبزیکا او نوروکلیو کي شپږویشت واټرپمپونه درولي دي چي ددغوواتر پمپونو په درولو او فعالیت سره داوبو دکمښت له پلوه دخلکو زیاتي ستونزي او مشکلات لري شوي دي .

دلوړوزده کړو دوزارت علمي اومښتو دېکي شوراجوړه شوه

کابل باختر:

دلوړو زده کړو وزارت علمي او مسلکي شورا ورمه ورځ دلوړو زده کړو دمحترم وزیر په مشري ددغه وزارت په مقرکي جوړه شوه . دلوړو زدکړو وزیر محترم قاري دین محمد حنیف دخپلي وینا په ترڅ کي داکادمیکي اصولو دتامینولو او دتحصیلي ستونزو او مشکلاتو دلري کولو په باب اوږدي خبري وکړي او دغونډي اجندا یې دغور اوخبرو او دتصمیمو نیولو په مقصد علمي او مسلکي شورا ته طرحه کړه په دي شورا کي دتحصیلي موسسو دپوهنځیو دپرلنیو سمسترونو دوروستیو ازموینو نتیجې وڅیړل شوي او له خبرو اترو وروسته دمحصلانو دپوهي دسطحي دټیټید ود مخنیوي او په تحصیلي قوانینو باندي دپوهنځیو دلازیات عبارولو په خاطر پریکړه وشوه چي تحصیلي موسسي دي دازموینو هغه لایحه چي پخوا نافذه شوي او قانوني اعتبار لري په دقیقه توګه رعایت کړي او داکادمیکي لایحو پرخلاف ددویم او دریم چانس دازموینو له اخستلو څخه دي دده وکړي البته هغه محصلان چي دپوهنځیو په کړه وړو شکمن وي په بوه اووني کي یې شکایتو نه څیړل کیږي او وروسته دازموینو نتیجي دکل په توګه ثا متیږي او په سوابقو کي لیکل کیږي دغه راز په دي غونډه کي دلوړوزده کړو وزارت دبهرنیو او فرهنګي اړیکو ریاست ته دنده وسپارل شوه چي په انګلیسي ژبه بهرنیو اتباعو او درسي تحصیلي بورسونو خاوندانوته ددپیلو مونو دترجمي دنمونو په باب نوي نظر وکړي او دغونډې له لا ربنود سره سم یې برابره کړي

درياست الوزرا ء اقتصادي مرستيال دننګرهار پوهنتون وکوت

درياست الوزرا ء مرستیال اود ختیځ زون تنظیمیه رئیس محترم مولوي عبدالکبیر ورمه ورځ دننګرهار پوهنتون وکوت دجلال آباد له ښارنه دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ

محترم مولوي عبدالکبیر ددغي کتني په بهیر کي دننګرهار پوهنتون اړوند بیلا بیلي برخي وکتلي او ددغه پوهنتون له مسوولینو او استادانو سره دخبر و په ترڅ کي یې دهیواد دبچیانو دسالمي ښوني او روزني او ددغه پوهنتون د بیلا بیلو برخو دبهاینې په وړاندي یې دهغوي وظیفوي مسو ولیتونه جوت کړل او دستو نزو او مشکلاتو دحل کولو په لاره کي یې خپله همکاري څرګنده کړه ددغي کتنې په بهیرکې دننګرهار پوهنتون علمي مرستیال او سرپرست رئیس محترم مولوي محمود الدین صافي ددغه پوهنتون دعلمي فرهنګي تحقیقي او اکادمیکي کار او فعالیتونو په باب درياست الوزرا ء محترم اقتصادي مرستیال ته معلومات وړاندي کړل او ډاډ یې ورکړ چي دننګرهار پوهنتون استادان او منسوبین په بشپړ اخلاص او صداقت سره خپلي دندي ترسره کوي . دبوبل خبر له مخي درياست الوزرا ء اقتصادي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر په کونړ اخند زاده مشهور محترم شیخ الحدیث مولوي محمد نعیم سره دکتني په ترڅ کي دبو لړ مسئلو په باب خبري اتري وکړي

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press